سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۱۰/۳۰

# مُحبت کوی څوک؟

د معاملو عصر دی، مینه الفت کوی څوک؟
صاحبه! وخت بدل دی، دا حماقت کوی څوک؟

څوک کوی غم د دنیا، څوک جنتونه غواړی
سجدی چی شی غرض ته، نو عبادت کوی څوک؟

دلته تیاره او رڼا ، یو بل نه فرق نه لری
غلا چی په دواړو کی شی، نو صداقت کوی څوک؟

چی رسوی دی هرڅوک، د ښکار کولو ځای ته
نو ورورولي څه په کارده، او رفاقت کوی څوک؟

د سپیني خولی سره چی، ساقی پیاله در کوی
بیانو وجدان چیرته دی او شرافت کوی څوک؟

د ژوند کوڅو کی دلته، خبرې بل ډول دی
چی عشق ته لاس رسیږی، نو محبت کوی څوک؟

زما ســاده کلیـوال ، لا ورتـه غـوږ نیسی خـو!

چی مـطلب نه وی پکی، بیا نصحت کـوی څـوک؟

اکتوبر/۲۵/۲۰۱۹

ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

مُحبت کوی څوک؟

S_klewal_mohabat_kawi_sok.pdf